
هفته واره رساله :355
WEEKLY BOOKLET:355

# د دُنیا مَحبّت

PASHTO



- د دُنیا مطلب
- پهٔ زُهد او فقر کښې فرق
- د زُهد درجات
- د زُهد کمال درجه

پیشکش: (دعوتِ اسلامی)
المدینه العلمیه
Islamic Research Center

## فهرست

د دُنیا مَحَبَّت.............................................................1
پهٔ رِزق کښې د برکت بهترینه وظیفه ........................................1
زهٔ دُنیا یم (واقعه) ........................................................2
د دُنیا مطلب ................................................................3
د دُنیا د مَحَبَّت بدي .......................................................3
د دُنیا د مَحَبَّت قِسمونه..................................................5
د دُنیا طلب کوونکو قِسمونه ............................................5
د ثعلبه قیصه................................................................6
﴿2﴾ د دُنیا طلب کوونکو دویم قِسم......................................8
د دُنیا سره د مَحَبَّت کوونکو انجام.....................................9
د دُنیا درې حصې ............................................................9
د دُنیا عِیش هیڅ څیز نه دے..............................................10
شیطاني وسوسه او د هغې جواب..........................................11
د دُنیا د مَحَبَّت علاج ......................................................12
د زړهٔ نه د دُنیا د مَحَبَّت د ویستو سبب..............................13
د دُنیا د مَحَبَّت نه د نجات حاصلولو بهترینه طریقه ...........14
پهٔ زُهد او فقر کښې فرق ...................................................15
د زُهد فضیلت...............................................................15
د زُهد درې مرتبې ...........................................................16
د زُهد علامت ................................................................16
د زُهد قِسمونه ...............................................................17

د زُهد درجات.................................................................18
د زُهد حاصلولو اسباب ........................................................19
د زُهد نه اَفضل حالت..........................................................20
د زُهد کمال درجه..............................................................21

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د دُنيا مَحَبَّت

**دُعائے عطّار:** يا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله "**د دُنيا مَحَبَّت**" ولولي يا واوري، هغۀ د ځان نه علاوه د چا هم مۀ محتاجه کوې او د هغۀ د زړۀ نه د دُنيا مَحَبَّت اوباسې، حقيقي عاشقِ رسول يـې جوړ کړې او هغۀ بے حسابه اوبخښې-اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

## پۀ رِزق کښې د برکت بهترينه وظيفه

د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکّي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې يو ګس حاضر شو، هغۀ د غريبۍ او پۀ رزق کښې د تنګۍ پۀ باره کښې عرض وکړو، رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغۀ ته (پۀ رزق کښې د برکت وظيفه وښودله او) ارشاد يـې ووفرمائيلو: چې کله تۀ کور ته داخليږې نو سلام کوه که پۀ کور کښې څوک وي او که نه، بيا زما پۀ بارګاه کښې سلام پيش کوه او (بيا) سورۀ اِخلاص يو ځل لوله- هُغه ګس پۀ دې باندې عمل وکړو نو الله پاک (د دې پۀ برکت) د هُغه ګس د پاره د رزق دروازې برسيره کړې تر دې پورې چې هغۀ د خپل رزق نه خپلو ګاؤنډيانو او خپلوانو ته هم فائده ورسوله- (القول البديع ، ص 273)

حاجتيں سب روا ہوئيں اُس کی ہے عَجَب کيميا دُرود شريف

(ديوانِ کافی، ص 27)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## زۀ دُنيا يم (واقعه)

د عظيم تابعي بزرګ، حضرتِ حُمَيد بن هِلال رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه روايت دے چې حضرت عَلاء بن زِيَاد رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائيلي دي چې يو ځل ما پۀ خوب کښې خلق پۀ څۀ څيز پسې ورروستو روان وليدل نو زۀ هم پۀ هغوئي پسې روان شوم، چې اومې کتل نو هغه د ماتو غاښونو والا پۀ يوه سترګه ړنده [يعني کاڼې] بوډۍ وه کومې چې هر قِسمه کالے اچولے وو او ځان يې ښه سم سينګار کړے وو، ما ترينه پوښتنه وکړه چې تۀ څوک يې؟ اوئې وئيل: زۀ دُنيا يم- ما ووئيل چې زۀ د الله پاک پۀ بارګاه کښې سوال کووم چې هغۀ زما پۀ زړۀ کښې ستا د پاره بغض او نفرت واچوي- هغې ووئيل: آۀ جي! که تاسو د مال او دولت نه نفرت وکړئ نو زما نه به مو پخپله نفرت پيدا شي-

( الزہد لامام احمد ، ص 265، حديث: 1429)

دُنيا کو تُو کيا جانے يہ بِس کی گانٹھ ہے حرافہ
صورت ديکھو ظالم کی تو کيسی بھولی بھالی ہے
شہد دکھائے زہر پلائے، قاتل، ڈائن، شوہر کُش
اس مردار پہ کيا للچايا، دُنيا ديکھی بھالی ہے

(حدائقِ بخشش، ص 186)

**شرحِ کلامِ رضا:** اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دُنيا مکر او فريب بيانوي او فرمائي: اے د الله پاک بنده! تۀ دُنيا څۀ پيژنې؟ د شکل او صورت نه

سيدها ساده پهٔ نظر راتلونکې دا دُنيا ”**د زهرو پونۍ**“ ده، دا د دهوکه بازۍ زنانه پهٔ شان ده، دا داسې ظالمه ده چې زهر خلقو ته شات ښکاره کوي او څوک چې د دې سره مَحَبَّت کوي نو هم دا خپل عاشق پخپله وژني، دا دُنيا ډېره خرابه او مُرداره ده، پهٔ دې پورې د زړهٔ تړلو هيڅ فائده نشته، دا ازمائيلے شوې خبره ده۔

عالَم اِنقلاب ہے دنیا — چند لمحوں کا خواب ہے دنیا
فخر کیوں دل لگائیں اِس سے — نہیں اچھی خراب ہے دنیا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب — صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دُنيا مطلب

امام جَوهَري وائي چې د دُنيا لغوي معنیٰ ده ”نزدې“ او دُنيا ته دُنيا ځکه وئيلے شي چې دا د آخرت پهٔ نسبت انسان ته ډېره نزدې ده يا پهٔ دې وجه چې دا د خپلو خواهشونو او خوندونو له وجهې زړهٔ ته ډېره نزدې ده۔ (اصلاحِ اعمال، 128/1) (الحديقة النديه، 65/1)

## د دُنيا د مَحَبَّت بدي

نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: هغه غټه ګناه د کومې چې خلق د اللّٰه پاک نه بخښنه نه غواړي ”د دُنيا مَحَبَّت“ دے۔ (فردوس الاخبار، 402/1، حديث: 2990) پهٔ يو بَل حديثِ پاک کښې دي: حُبُّ الدُّنْيَا رَاْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ يعنې د دُنيا مَحَبَّت د ټولو ګناهونو جرړه ده۔ ( موسوعه لابن ابی الدنيا، 22/5، حديث: 9)

حضرت علامه عبدُ الرؤوف مناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ فيضُ القدير كښې فرمائي: لکه څنګه چې د تجربې او مشاهدې نه ثابته ده چې د دُنیا مَحَبَّت د ښکاره او پټې هرې ګناه دعوت ورکوي، خاص طور هُغه ګناه د کومې دار او مدار چې صرف پهٔ دې باندې وي، څکه د دنیا عاشق د ګناه او د دې د بد صورتیِ نه د خبریدو باوجود د دُنیا پهٔ مَحَبَّت کښې مست شي- د دُنیا مَحَبَّت د شک پهٔ لور بوځي بیا د مکروه (یعني د نا خوښه څیزونو) په لور بیا د حرامو پهٔ لور او (مَعَاذَالله!) کله نا کله د دُنیا مَحَبَّت د کُفر پهٔ لور بوځي بلکې ټول اُمتونه کومو چې د خپلو انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام نه انکار کړے وو د هغوئي د کُفر سبب د دُنیا مَحَبَّت وو- د هرې ګناه اَصل (یعني جرړه) د دُنیا مَحَبَّت دے، څکه خو وئیلے کیږي چې دُنیا د شیطان شراب دي څوک چې د دې نه څښي د هغه نه به نشه هم د مرګ پهٔ وخت څي د ستومانه کیدو او شرمیدو سره، د دُنیا مَحَبَّت ډیره تباهي ده د یو څو خلقو نه علاوه به د زیاتره خلقو د زړونو نه د دې مَحَبَّت نه ووځي- (فيض القدير، 487/3، تحت الحديث: 3662 ملخصاً) امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: لکه څنګه چې د دُنیا مَحَبَّت د ټولو ګناهونو جرړه ده هم داسې د دُنیا نه نفرت د ټولو نیکو اَصل دے- ( التيسيربشرح جامع الصغير ،492/1)

ہمارے دل سے نکل جائے الفتِ دنیا  دے دل میں عشقِ محمد مرے رچا یارب
(وسائلِ بخشش، ص 82)

## د دُنيا د مَحَبَّت قِسمونه

بعضې دُنيا کُفر دے، بعضې فِسق، بعضې غفلت او بعضې دُنيا عين ايمان دے، د ابو جهل دُنيا کُفر وو او د حضرت عثمان غني ذُو النُّورَين (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) عين ايمان وو، هم داسې د قارون او فرعون دُنيا کُفر وو، د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام دُنيا عين ايمان وو، هم داسې که د دُنيا مَحَبَّت نفساني يا شيطاني وي نو بد دے او که رحماني يا ايماني وي نو ښه دے۔

(تفسيرِ نعيمی، 287/4)

حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: دُنيائي ژوند هغه دے کوم چې د نفس په خواهشونو کښې تير شي او کوم ژوند چې د آخرت په تيارئ کښې تير شي هغه د دُنيا ژوند نه دے اګر که په دُنيا کښې ژوند دے۔ د دُنيا ژوند بيل دے او په دُنيا کښې ژوند بيل دے۔ د دُنيا ژوند فاني دے خو په دُنيا کښې چې کوم ژوند د آخرت د پاره دے هغه فَنا نه دے۔

(اچھے بُرے عمل، ص72)۔ (تفسير نور العرفان، ص 932 ملخصاً)

## د دُنيا طلب کوونکو قِسمونه

﴿1﴾ هغه خلق کوم چې د دُنيا مال په دې نيت حاصلوي چې د خپلوانو سره به صِله رحمي کوي او د غريبانانو مدد به کوي هغوئي په سخيانو کښې شميرلے کيږي که د هغوئي عمل د هغوئي د نيت مطابق وي نو اَجر به ورکړے کيږي خو د دې باوجود هغوئي هوښياران نه دي ځکه چې عقلمند هغه وي څوک چې د داسې هيڅ يو څيز خواهش ونکړي د

کوم پهٔ باره کښې چې هغهٔ ته پته نه وي چې د هغې د حاصلولو نه پس به د هغهٔ څهٔ حال وي- لهٰذا پهٔ دې نیت سره مال حاصلوونکي دې د ”ثعلبه“ د قیصې نه عبرت حاصل کړي-

(اچھے بُرے عمل، ص 65 ۔ (رسالۃ المذاکرۃ، ص 41)

## د ثعلبه قیصه

د الله پاک د خوږ رحمت والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت مبارک کښې ثعلبه نومې یو کَس درخواست وکړو چې د هغهٔ د مالداره کیدو د پاره دُعا وکړې- د الله پاک پهٔ عطا سره د غیبو خبر ورکوونکي آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائیل: اے ثعلبه! لږ مال د کوم چې تهٔ شُکر ادا کړې د هغه ډیر مال نه بهتر دے د کوم چې شُکر ادا نکړے شې- ثعلبه بیا حاضر شو او هم دغه درخواست یې وکړو او اوئې وئیل: پهٔ هغه ذات باندې مې دې قَسم وي چا چې تهٔ رښتونے نبي راولیږلې که هغهٔ ما له مال راکړې نو زهٔ به د هر حق ورکوونکي حق ادا کووم- حضور نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا ووفرمائیله، الله پاک د هغهٔ پهٔ چیلو کښې برکت عطا کړو او دومره ډیرې شوې چې پهٔ مدینه منوره کښې د هغهٔ سره ځائے نه وو نو ثعلبه هغه د ځان سره کړې اوځنګل ته لاړو او د جُمعې او د جَمعې د حاضرئ نه هم محرومه شو- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د هغهٔ د حال پوښتنه وکړه نو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عرض وکړو چې د هغهٔ مال ډیر زیات شوے دے او اوس پهٔ ځنګل کښې هم د هغهٔ مال نه راځائے

کيږي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائيل چې پۀ ثعلبه باندې افسوس! بيا چې کله رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زکوٰة ترلاسه کوونکي وليږل نو خلقو هغوئي له خپلې خپلې صدقې ورکړې، چې کله هغوئي د ثعلبه خوا له لاړل او صدقه يې ترينه وغوښتله نو هغۀ ووئيل دا خو ټيکس دے، لاړ شئ چې وړومبے پرې زۀ سوچ وکړم- چې کله هُغه خلق د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې واپس حاضر شول نو رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د څۀ عرض کولو نه مخکښې دوه ځله ووفرمائيل: پۀ ثعلبه باندې افسوس! د دې نه پس دا آيت نازل شو:

وَ مِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ لَىٕنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ۝۷۵ فَلَمَّاۤ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَ تَوَلَّوْا وَّ هُمْ مُّعْرِضُوْنَ۝۷۶

(پ 10، التوبة: 76،75)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او په هغوئي کښې څه هُغه دي کومو چې د الله سره وعده کړې ده چې که الله يې مونږ ته په خپل فضل سره راکړي نو مونږه به ضرور صدقه ورکوو او مونږه به ضرور د صالحينو نه شو (۷۵) بيا چې کله الله هغوئي ته په خپل فضل سره عطا کړو نو په هغې کښې يې بُخل کول شروع کړو او مخونه يې واړول او بيرته اوګرځيدل (۷٦)

بیا ثعلبه صدقه یوړله او پهٔ بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائیل چې الله پاک زهٔ د دې د قبلولو نه منع کړے یم، هغهٔ پهٔ خپل سر باندې د خاورو اچولو سره واپس لاړو- بیا یې هٔغه صدقه پهٔ خلافتِ صدیقي کښې د مسلمانانو وړومبي خلیفه حضرت ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ له راوړله هغوئي هم هغه قبوله نکړه- بیا یې پهٔ خلافتِ فاروقي کښې د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ له راوړله هغوئي هم قبوله نه کړه او پهٔ خلافتِ عثماني کښې دا ګَس هلاک شو- (تفسیر نسفی، پ 10، التوبة: 75)

پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې شیخِ طریقت امیرِ اهلِسُنَّت د خومره ښکلي ارمان اظهار کوي:

نہ مجھ کو آزما دنیا کا مال و زر عطا کر کے
عطا کر اپنا غم اور چشمِ گِریاں یارسول اللہ
(وسائلِ بخشش، ص 340)

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿2﴾ د دُنیا طلب کوونکو دویم قِسم

د دې هم دوه قِسمونه دي: ﴿1﴾ د دُنیا د طلب کوونکو پهٔ دې قِسم کښې هٔغه خلق شامل دي د چا چې د دُنیا نه مقصد خواهشونه پوره کول او د دُنیا د خوندونو نه مزې اخستل وي داسې خلق پهٔ څناورو کښې شمیرلے شوي دي- ﴿2﴾ هٔغه خلق کوم چې پهٔ نورو خلقو باندې د فخر کولو او د ډیر مالداره جوړیدو سره ځان خلقو ته د ښکاره کولو د

پاره مال حاصلوي نو هغوئي پهٔ بے وقوفو، دهوکه بازو بلکې مَردودانو او مَلعونانو کښې شمیرلے کیږي- (اچھے بُرے عمل، ص67)- (رسالۃ المذاکرۃ، ص 41)

## د دُنیا سره د مَحَبَّت کوونکو انجام

حضرت ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائیلي دي چې د قیامت پهٔ ورځ به دُنیا د یوې بدرنګو سترګو والا بوډۍ پهٔ شکل کښې راوستے شي، د هغې غاښونه به بهر راوتي وي او هغه به ډیره بدرنګه وي، هغه به چې خلقو ته متوجه کیږي نو د هغوئي نه به پوښتنه کولے شي: آیا دا پیژنئ؟ هغوئي به وائي چې مونږ د دې د پیژندلو نه د اللّٰه پاک پناه غواړو نو وئیلے به شي چې دا دُنیا ده پهٔ کومه باندې به چې تاسو فخر کولو، د دې پهٔ وجه به مو د خپلولۍ تعلقات ختمول، د دې پهٔ وجه به مو د یو بَل سره حسد کولو، دښمني به مو کوله او غرور به مو کولو بیا به دا دُنیا دوزخ ته وغورځولے شي نو هغه به اواز وکړي: اے زما رَبَّه! زما تابعدارۍ کوونکي او زما ډله چرته ده؟ اللّٰه پاک به فرمائي: هغوئي هم د دې سره کړئ-

( موسوعہ لابن ابی الدّنیا، 72/5، رقم: 123)

## د دُنیا درې حصې

﴿1﴾ پهٔ کومې کښې چې ثواب دے: دا هُغه حصه ده د کومې پهٔ وسیله چې انسان خیر ته رسي او د بدو نه نجات حاصلوي- دا د مؤمِن سورلۍ، د آخرت پتے او کِفایت کوونکے حلال رزق دے-

﴿2﴾ د كومې چې حساب دے: دا هٔغه حصه ده د كومې پهٔ وجه چې تهٔ د يو حكم د ادا كولو نه غافل نشې او د هغې پهٔ طلب كښې ناجائزه كار ونكړې او د دې اهل هٔغه مالداره دي د كومو حساب چې به اوږد وي، غريبانان به د دوئي نه پينځه سوه [500] كاله مخكښې جنّت ته ځي-
﴿3﴾ پهٔ كومې كښې چې عذاب دے: دا هٔغه حصه ده پهٔ كومه كښې چې بنده د ټولو ضروري چارو د ادا كولو نه لرې شي او پهٔ ګناهونو كښې اخته شي، څوک چې د دې حصې مالک جوړ شي دا به هغهٔ د وور پهٔ لور بوځي او د نقصان كور ته به يې وغورځوي-
(اچھے بُرے عمل، ص 64)- (رسالة المذاكرة، ص41)

## د دُنيا عِيش هيڅ څيز نه دے

د صحابِي رسول، حضرت ابو ذَر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زهٔ د رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم، شهنشاهِ بني آدم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا له لاړم، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د كعبة الله شريف سوري ته تشريف فرما وو، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې كله زهٔ وليدم نو ارشاد يې ووفرمائيلو: "د كعبې پهٔ رَبّ مې دې قَسم وي چې هغوئي پهٔ ډيره خساره كښې دي-" حضرت ابو ذَر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: "زهٔ ورنزدې شوم او كښيناستم، خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا بيا هم دا فرمائيل: تر دې پورې چې زهٔ پاڅيدم او عرض مې وكړو: "يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما مور پلار دې پهٔ تاسو باندې قربان شي! هغه كوم خلق دي؟" نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: "

هغوئي به د مال او دولت زياتوونکي وي خو هٔغه کوم چې ښي، کڼ، مخکښې او وروستو خرچ کړي او هغوئي به ډير لږ وي او څوک چې هم د ډيرو اوښانو يا غواګانو يا چيلو مالکان وي او د هغې زکوٰة ادا نه کړي نو هٔغه (څاروي) به د قيامت په ورځ د مخکښې نه زيات غټ او څاربه شي او را به شي او خپل مالک به په ښکرو باندې وهي او په ښنګرو باندې به يې [د ښپو لاندې] چقوي تر دې پورې چې د ټولو خلقو حساب کتاب به ختم شي“-

( مسلم، ص 385، حديث: 2300)

تجھ کو غافِل فِکرِ عُقبیٰ کچھ نہیں
کھا نہ دھوکا، عیشِ دُنیا کچھ نہیں
زِندگی ہے چند روزہ کچھ نہیں
کچھ نہیں اس کا بھروسہ کچھ نہیں
ایک دِن مرنا ہے، آخر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے، آخر موت ہے
عیش کر، غافِل نہ تُو آرام کر
مال حاصِل کر، نہ پیدا نام کر
یادِ حق دُنیا میں صُبْح و شام کر
جس لئے آیا ہے تُو وہ کام کر
ایک دِن مرنا ہے آخر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب
صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## شيطاني وسوسه او د هغې جواب

بعضې خلق دهوکه شي او دا ګڼي چې که زمونږ بدن هر څومره په دُنيا کښې مصروف وي خو زمونږه زړۀ د دُنيا نه فارغ او خالي وي، دا شيطاني وسوسه ده، دا خنګه کيدے شي چې يو ګس درياب ته کوز شي او ښپې يې لَمدې نشي- د دُنيا مثال د سمندر د ترخو اوبو په شان دے چې

څومره يــې ښتبې هُغه همره به ډېر تړے کېږي، د دُنيا سره او سپين زر او سامان د خپل اطمينان ذريعه ګڼل د ټولو نه لويه بے وقوفي ده چرته چې هميشه اوسيدل نه وي نو هلته به اطمينان څنګه حاصل شي---؟

(خطباتِ امام غزالی، ص 124)۔ (الاربعین فی اصول الدین، ص 155)

## د دُنيا د مَحَبَّت علاج

د دُنيا رغبت په دوه قِسمه دے: يو هغه کوم چې دنيا دار د آخرت د عذاب حقدار جوړوي هغي ته حرام وئيلے شي- دويم هغه دے کوم چې اعلیٰ درجو ته په رسيدو کښې خنډ [يعني رکاوټ] دے او هغه په اوږد حساب کښې راګيرونکے دے، دې ته حلال وئيلے شي او هوښيار انسان ته معلومه ده چې د قيامت په ميدان کښې د حساب کتاب د پاره تر ډېر وخته پورې د هغه ودريدل هم يو عذاب دے نو څوک چې په حساب کښې اخته کړے شو نو هغه ته عذاب ورکړے شو- څکه چې رَسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې (دُنيا) د حلالو به حساب کيږي او په حرامو باندې به عذاب وي- او دا يــې هم ووفرمائيل چې د دې په حلالو باندې عذاب دے خو د دې عذاب د حرامو د عذاب نه سپک دے او که حساب نه وي نو هم په جنّت کښې د حاصليدونکو اوچتو درجو د لاس نه تلل او ذليله او خواره او خرابه دُنيا کومه چې ختميدونکي ده د دې د پاره خو افسوس کول هم عذاب دے نو هم دې خبرې ته په دُنيا کښې نظر وکړئ چې کله تهٔ د خپلې زمانې خلق په دنيائي سعادتونو کښې د ځان نه وړاندې وينې نو ستا په

زړۀ کښې خومره افسوس پیدا کیږي حالانکې تا ته معلومه ده چې دا عارضي او فاني سعادتونه دي او ګنده دي، په دې کښې هيڅ صفائي نشته- نو هغه سعادت د کوم عظمت چې بيانيدے نشي د هغې د لاس نه پۀ وتو خومره افسوس پکار دے؟ زمانې تيرې شوې خو هغه باقي دي- غرض دا چې د قيامت پۀ ورځ پۀ سوال او جواب ورکولو کښې ذِلّت، ويره، خطره، مشقت او انتظار دے او دا هر څۀ د آخرت د نقصان سبب دے نو که دنيا لږه وي او که ډيره حرامه وي او که حلاله تر څو پورې چې پۀ تقوىٰ باندې مددګاره نه وي نو ملعون [يعني لعنتي] ده او هم دا وجه ده چې الله پاک انبيائے کرام (عَلَيهِمُ السَّلام)، اوليائے کرام (رَحمَةُاللهِ عَلَيهِم) او بيا د دوئي نه پس نور مقربين درجه پۀ درجه پۀ ازمينښونو کښې اچوي دا هر څۀ پۀ هغوئي باندې د شفقت او احسان پۀ طور باندې وي د پاره د دې چې د هغوئي پۀ آخرت کښې زياته حصه نصيب شي- (احياء العلوم، 272/3)

عالَم اِنْقِلاب ہے دنیا چند لمحوں کا خواب ہے دنیا
فخر کیوں دل لگائیں اِس سے نہیں اچھی خراب ہے دنیا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د زړۀ نه د دُنيا د مَحَبَّت د ويستو سبب

د دُنيا پۀ کارونو کښې د مصروفه کيدو باوجود ستا د آخرت د پاره فکر کول او د هغې شعور ساتل به ستا د زړه نه د دُنيا مَحَبَّت اوباسي- او دې

ته حقيقي زُهد وئيلے شي او دا به د هميشه هميشه د پاره تا الله پاک ته نزدې کړي-

(دُنیا سے بے رغبتی اور اُمیدوں کی کمی، ص29)

د دُنيا پهٔ معامله کښې هميشه د ځان نه ښکته خلقو ته ګورئ، د ځان نه بره خلقو ته مهٔ ګورئ ځکه چې شيطان هميشه د انسان نظر بره اړخ ته اړوي- شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ يوه موقع باندې ارشاد ووفرمائيلو: څوک چې د الله پاک او د هغهٔ د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ فرمانبردارئ کښې مشغول وي، نو دُنيا د هغهٔ پهٔ خدمت کښې مشغوله وي- (امیرِ اہلِ سنّت کی 786 نصیحتیں ، ص 15)

## د دُنيا د مَحَبَّت نه د نجات حاصلولو بهترينه طريقه

امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ستاسو پهٔ دُنيا پرينښودو او د مال پهٔ تقسيمولو راغب کوونکي اسباب دا دي: د دُنيا افتونه او د دې عيبونه يادول، دا خبره پهٔ ذهن کښې ساتل چې د دُنيا ګټه ډيره لږه او زر ختميدونکې ده او د دُنيا ټول طلب ګار احمقان دي، بيا دا خبره رايادول چې پهٔ ما باندې د الله پاک ډير زيات نعمتونه دي حالانکې زهٔ د هغهٔ پهٔ لار کښې دومره نه لګووم څومره چې هغهٔ ما ته راعطا کوي- چې کله تاسو پهٔ دې خبرو باندې ښه غور کوئ نو ستاسو د پاره به د دُنيا د پرينښودو او د مال د تقسيمولو معامله اسانه شي- هسې دا هم يادوئ چې دُنيا د الله پاک دښمنه ده او تاسو د الله پاک سره مَحَبَّت کوونکي يئ او څوک چې څوک خپل دوست او محبوب ساتي نو د هغهٔ دښمن خپل

دښمن ګڼي- دُنيا پهٔ حقيت کښې خيرينه ځيچنه، او مُرداره ده، تاسو نه وينئ چې د دې خوندور خوراکونه لږ سعت پس خراب او بدبوداره شي- بس دُنيا پهٔ خوشبو کښې اباده يوه داسې مُرداره ده د کومې ظاهرې شکل ته چې پهٔ کتلو غافله خلق پهٔ دهوکه کښې اخته شو او عقلمندو د دې نه ډېره وکړه- (منہاج العابدين، ص 30)

عظيم تابعي بزرګ، حضرت ربيع بن خُثَيم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د خپلو زړونو نه د دُنيا مَحَبَّت اوباسئ نو د آخرت مَحَبَّت به دې ته داخل شي- (فيض القدير، 487/3، تحت الحديث: 3662)

## پهٔ زُهد او فقر کښې فرق

دُنيا چې بځپله د انسان نه بيله شي نو دې ته فقر (يعني غريبي) وئيلے شي او بَل صورت دا دے چې بنده د دُنيا نه بيل شي، مطلب دا دے چې که د هغهٔ لاس ته مال راشي نو هغهٔ يـې د نفرت پهٔ وجه نه خوښوي، د مال پهٔ راتلو هغهٔ ته تڪليف وي، د دې سره سره د دې د شر او پهٔ دې کښې د مشغوليدو نه د بچ کيدو د پاره د تيښتې لار اختيار کړي- د دې حالت نوم "زُهد" دے او پهٔ کوم کَس کښې چې دا صفت وي نو هغهٔ ته "زاهد (يعني د دُنيا سره رغبت نه لرونڪے)" وئيلے شي- (احياءالعلوم، 234/4)

## د زُهد فضيلت

د صحابيِ رسول، حضرت ابو هُريره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې د دواړو جهانونو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: (د دُنيا پهٔ معامله

کښې) د ځان نه ښکته خلقو ته ګورئ او د ځان نه بره خلقو ته مۀ ګورئ دا ستاسو د پاره بهترین نصیحت دے د پاره د دې چې تاسو د الله پاک نعمتونه ضائع نه کړئ- (مسلم، ص 1211، حدیث: 7430)

صحابيِ رسول، حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: بنده چې کله د دُنیا نه بے رغبته شي نو د هغۀ زړۀ په حِکمت باندې مُنوَّر شي او اندامونه ( یعني د بدن حصې) یې پۀ عبادت باندې مددګارې شي-
(منهاج العابدین ، ص 29)

## د زُهد درې مرتبې

حضرت ابراهیم بن اَدهم رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه فرمائي: د زُهد درې مرتبې دي: یو زُهد فرض دے او هغه د الله پاک د حرام کړے شوو څیزونو نه منع کیدل دي- دویم زُهد د سلامتیٰ د پاره دے او هغه د شک او شُبهاتو لرونکو څیزونو پرېښودل دي- دریم زُهد د فضیلت حاصلولو د پاره دے او هغه هم د الله پاک پۀ حلال کړے شوو څیزونو پرېښودو کښې دے او دا د زُهد ډېره اعلیٰ مرتبه ده- (مکاشفة القلوب، ص 242)

## د زُهد علامت

﴿1﴾ چې کوم څیزونه موجود وي پۀ هغې باندې خوشحاله نه وي او چې کوم څیزونه موجود نه وي پۀ هغې باندې غمژن هم نه وي- ﴿2﴾ د هغۀ پۀ نزد بد بیانوونکے او تعریف کوونکے دواړه یو شان وي- وړومبے علامت پۀ مال کښې د زُهد علامت دے او دویم پۀ مرتبه کښې د زُهد

علامت دے۔ ﴿3﴾ اللہ پاک ته مائل وي او د هغۀ پۀ زړۀ باندې د اللہ پاک د اطاعت خوږ والے غالب وي۔ (احیاء العلوم، 298/4 ملخصاً)

## د زُهد قِسمونه

د زُهد (يعني د دُنيا سره د رغبت نه لرلو) په وجه عبادت زيات او د اوچتې مرتبې شي ځکه د عبادت پۀ طلب ګار باندې لازم دي چې هغۀ د دُنيا نه بے رغبته شي او د دې نه لرې شي۔ د زُهد دوه قِسمونه دي: ﴿1﴾ اِختياري او ﴿2﴾ غير اِختياري۔

اِختياري زُهد دا دے چې څۀ درسره نه وي د هغې طلب نه کوي، څۀ چې درسره وي هغه تقسيم کړې او د دُنيا او د دې د مال او دولت اراده پرېږدې۔ پۀ کوم کَس کښې چې دا درې واړه صفتونه موجود وي هغۀ زاهد دے، دريم جُز يعني د دُنيا طلب هم د زړۀ نه ويستل ډير مشکل کار دے ځکه چې ډير داسې خلق دي کوم چې په ظاهره دُنيا پرېښودونکي وي خو د هغوئي پۀ زړونو کښې د دُنيا مَحَبَّت موجود وي داسې کَس هم پۀ دې خنډ [يعني رکاوټ] کښې اخته وي، حالانکې د زُهد اصلي شان هم د دې د دريم جُز نه پيدا کيږي۔

غير اختياري زُهد دا دے چې زړۀ د دُنيائي څيزونو د شوق او خيالونو نه صفا وي۔ چې کله بنده اختياري زُهد اختيار کړي، داسې چې څۀ ورسره نه وي د هغې طلب نه کوي، چې څۀ ورسره وي نو هغه لرې کړي او د زړۀ نه د دُنيا اراده هم اوباسي نو بيا به د هغۀ زړۀ د دُنيا نه نجات حاصل

کړي، دُنیا به د هغهٔ په نزد سپکه شي او د هغهٔ په زړهٔ کښې به د دُنیا خیال نه راځي او دا غیر اختیاري زُهد دے- (منہاج العابدین، ص 29)

## د زُهد درجات

﴿1﴾ انسان چې د تکلیف سره د دُنیا نه بے رغبتي اختیار کړي او د خپلو خواهشونو باوجود د هغې د پرېښودو کوشش وکړي نو داسې کَس مُتَزَهِّد دے او کېدے شي چې دے په دې باندې د همیش والي اختیارولو سره زُهد اختیار کړي-

﴿2﴾ هغهٔ په خپله خوښه د دُنیا نه بے رغبتي اختیار کړي یعنې هغهٔ چې د کوم څیز لالچ کوي د هغې په نسبت دُنیا کمتره وګڼي لکه څنګه چې یو کَس د دوو درهمو د پاره یو درهم پرېږدي او دا کار د هغهٔ د پاره ګران نه وي خو د هغهٔ توجه د دُنیا او د خپل نفس په لور هم وي (یعنې هغهٔ سوچ کوي چې هغهٔ ډېر اهم څیز پرېښودے دے) او دا هم زُهد دے، خو په دې کښې د نقصان اندېښنه ده-

﴿3﴾ درېمه درجه د ټولو نه اعلىٰ ده او هغه دا ده چې بنده په خپله خوښه زُهد اختیار کړي او په خپل زُهد کښې مُبالغه اِختیار کړي او دا سوچ نه کوي چې هغهٔ څهٔ څیز پرېښودے دے ځکه چې هغهٔ ته معلومه ده چې دُنیا هډو څهٔ څیز نه دے، د آخرت په مقابله کښې د دُنیا هیڅ اهمیت نشته- اعلىٰ درجه دا ده چې تهٔ د اللہ پاک د رضا د پاره د هغهٔ نه علاوه د هر څیز نه بے رغبته شې او دا څیز د اللہ پاک (د دیدار) د خوند

او د هغۀ نه علاوه د هر نعمت نه د زُهد اختيارولو د پيژندلو سره حاصليږي لهٰذا تاسو له پکار دي چې د خپل ضرورت مطابق خوراک، جامې، نکاح او اوسيدل اختيار کړئ، هم دا حقيقي زُهد دے-
(لباب الاحياء، ص 333) ـ (مختصر احياء علوم الدين، ص 296)

## د زُهد حاصلولو اسباب

د زُهد مقصد دا دے چې د فضول، زياتي او غير ضروري څيزونو نه ځان بچ کړے شي، غرض دا چې صرف دومره طاقت او قدرت موجود پاتې شي چې عبادت او د الله پاک فرمانبرداري پرې وکړې- صرف خوراک څښاک کول او خوندونه حاصلول مقصد نه وي او د الله پاک پۀ دې باندې هم قدرت دے چې تاسو له بغير د څۀ ظاهري سبب نه لکه څنګه چې فرښتے د دې مادي اسبابو او ذريعو نه بغير هم ژوندی دي، الله پاک د دې طاقت هم لري چې تاسو ستاسو سره د موجود څيز پۀ ذريعه هم ژوندي وساتي يا داسې څيز درکړي کوم چې ستاسو هډو پۀ خيال کښې نه راځي ځکه که تاسو پۀ تقوىٰ باندې قائم اوسئ نو تاسو ته د ژوند تيرولو د پاره د دُنيا د طلب وغيره حاجت نشته او که د زُهد دا درجه تاسو حاصله نکړې نو د آخرت د سامان او د تقوىٰ پۀ نيت يې ولټوئ- د شهوت او مزې پۀ غرض يې مۀ لټوئ ځکه چې کله ستاسو نيت نيک وي نو هم دا به د آخرت پۀ طلب کښې شميرلے کيږي او داسې به ستاسو پۀ زهد کښې هيڅ فرق نه راځي- (منهاج العابدين، ص 32)

﴿1﴾ کله خو د دوزخ ویره او د عذاب اندیښنه د زُهد سبب جوړېږي او دې زُهد ته د خائِفِين زُهد وئیلے شي- ﴿2﴾ کله د آخرت د نعمتونو خوند د زُهد سبب جوړېږي او دې ته د راجين زُهد وئیلے شي، دا د وړومبی درجي نه زیات دے- ﴿3﴾ دا د ټولو نه اعلیٰ دے صرف د الله پاک د لوري نه بے توجهي او د الله نه علاوه د نفس کمتر ګڼل که د زُهد له کبله وي نو دې ته حقیقي زُهد وئیلے شي-
(خطباتِ امام غزالی، ص 191) (الاربعین فی اصول الدین، ص 209)

## د زُهد نه اَفضل حالت

د زُهد نه هم افضل حالت دا دے چې د بنده په نزد د مال موجودتیا او نشت والے یو شان وي- په مال میلاویدو نه خو خوشحاله وي او نه تکلیف محسوسوي او په نه میلاویدو یې هم دا حالت وي بلکې د هغهٔ حالت داسې شي لکه څنګه چې د اُمُّ المؤمِنين حضرت بي بي عائشه صِدِّیقه طَیِّبَه طاهره رَضِیَ اللہُ عَنْہا وو چې چا د هغوئي په خدمت کښې یو لاکھ درهمې نذرانه وړاندې کړې نو هغوئي قبولې کړې او هم په هٰغه ورځ یې تقسیم کړې- خدمت ګارې عرض وکړو: تاسو چې کوم مال نن تقسیم کړو که په دې کښې مو په یو درهم غوښه اخستې وے نو مونږ به په دې باندې روژه ماته کړې وے- اوئې فرمائیل: که تا راته یاد کړې وو نو ما به هم داسې کړے وے- (احیاء العلوم، 235/4)
چې د کوم ګس حالت داسې وي که ټوله دُنیا هم د هغهٔ په قبضه کښې وي نو هغهٔ ته هیڅ نقصان نشي رسیدے ځکه چې هغهٔ مال په خپله قبضه کښې نهٔ بلکې د الله پاک په خزانه کښې ګڼي او د هغهٔ په نزد په دې خبره کښې هیڅ فرق نه وي چې مال د هغهٔ په قبضه کښې دے او


که د بَل چا، د داسې حالت لرونکي کَس نوم ''مُستَغنِي'' کيښودل پکار دي ځکه چې هغهٔ د مال لرلو او نه لرلو دواړو پروا نه کوي- (احياء العلوم، 235/4)

## د زُهد کمال درجه

د مال پهٔ معامله کښې د زُهد کمال درجه دا ده چې د بنده پهٔ نزد مال او اوبه يو شان وي، ظاهره ده چې د انسان خوا ته ډيرې اوبه وي نو هغه ته نقصان نه رسوي لکه څنګه چې د سمندر پهٔ غاړه باندې ولاړ کَس، او نه د اوبو کميدل ورته ضرر رسوي چې د ضرورت مطابق ورته اوبه ميلاويږي- اوبه يو داسې څيز دے د کومو چې انسان ته ضرورت وي، د انسان زړهٔ نهٔ خو د ډيرو اوبو نه نفرت کوي او نه ترينه د تيښتې لار اختياروي بلکې هغهٔ وائي چې زهٔ به د دې نه د خپل حاجت مطابق څښم، د الله پاک پهٔ بندګانو باندې به يې څښم او پهٔ دې کښې به د بُخل [يعني شومتوب] نه کار نه اخلم- د انسان پهٔ نزد د مال حالت هم داسې پکار دے چې د دې پهٔ راتلو او نه راتلو پهٔ هغهٔ باندې هيڅ فرق نه پريوځي- چې کله بنده ته د الله پاک معرفت حاصل شي او د توکل دولت يې نصيب شي نو بيا د هغهٔ پهٔ دې خبره باندې کامِل يقين شي چې هغهٔ تر څو پورې ژوندے وي نو هغهٔ ته به د ضرورت مطابق رزق ميلاويږي لکه څنګ چې ورته اوبه ميلاويږي- (احياء العلوم، 237/4)

نہ مجھ کو آزما دنیا کا مال و زَرْ عطا کر کے  عطا کر اپنا غم اور چشمِ گریاں یارسول اللہ
(وسائلِ بخشش، ص 340)

# راتلوکې هفتې رساله





978-969-722-627-6

01082497

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net